COVID-19
VACCINE
Public Health
Advice



# د COVID-19 واکسین

## د فایزر / بایان ټیک واکسین په اړه مهم معلومات، کومرناټي

نسخه 5

10 فروري

Rialtas na hÉireann
Government of Ireland

# د دغه معلوماتي پارچې په اړه

دا معلوماتی کتابچه تاسو ته د COVID-19 (کورونا وایرس) واکسین په اړه معلومات درکوي.

دا تاسو ته دا معلومات درکوي:

- کوویډ-19 څه شی دی
- د کوویډ-19 واکسین څه شی دی
- دا به لومړی چا ته وړاندې کېږي، او ولې؟
- ولې مهمه ده چې تاسو واکسین ترلاسه کړئ
- څوک باید واکسین ترلاسه نه کړي او څوک یې باید په اخیستلو کې ځنډ وکړي
- د واکسین خوندیتیا او اړخیزې اغېزې یې
- نور معلومات له کومه ځایه ترلاسه کولې شئ

لطفاً دا پارچه په پام سره ووایئ. تاسو د واکسین په اړه د روغتیا یوه کارکوونکي، لکه د ستاسو جي پي (ډاکټر) یا فارماسسټ، سره خبرې کولې شئ.

## کوویډ-19څه شی دی؟

**کویډ-19یوه داسې ناروغي ده چې کولای شي د ستاسو سږي او د هوا وتلو لارې، او ځنې وخت د بدن نور غړي اغېزمن کړي.**

دا د کورونا وایرس په نوم یوه وایرس له امله کیږي. کوویډ-19 تر لوړې کچې ساري ناروغي ده.

دا هغه وخت خپریږي چې ناروغ تنان ټوخی یا پرنجی وکړي او له خولې یې د مایع څاڅکي هوا ته بهر ووځي، یا چې کله دا څاڅکي په کومه سطحه پرېوځي او بل څوک یې لمس کړي او سترګو، پوزې یا خولې ته الس یوسي.

کووډ- 19 د جدي ناروغۍ، روغتون کې د بستر کېدا او آن چې د مرګ المل ګرځېدې شي.

**د کوویډ-19 عامې نښې په لاندې ډول دي:**

- تبه (د 38 سنتي ګرېډ تودوخه یا له دې لوړه درجه)
- یو نوی ټوخی - دا هر ډول ټوخی کېدی شي، یواځې وچ ټوخی نه
- د ساه لنډېدل یا ساه اخستنه کې تکلیف
- د بوی یا د ذایقې په احساس کې بدلون یا له لاسه ورکول – د دې مطلب دا دی چې تاسو درک کړئ چې تاسو د څه بوی نه درځي یا مو د ذایقې احساس ختم شوی، یا د څیزونو بوی یا ذایقه مختلفه ده

کېدې شي تاسو کې دا ټول علایم نه وي یا تاسو په عمومي توګه د معمول څخه لږ ښه احساس کوئ. د نښو په څرګندېدنه تر 14 ورځې وخت لګېدې شي. دا د زکام یا نزلې په شان علایم لرلې شي.

که تاسو د کوویډ-19 کوم عام علایم لرئ، نو ځان له نورو بېل کړئ (په خپله کوټه کې ووسېږئ) او کوم جي پي (ډاکټر) ته ټېلیفون وکړئ. هغوی کولی شي تاسو لپاره د کوویډ-19 د ټسټونه انتظام وکړي. د کوویډ-19 په اړه د نورو معلوماتو لپاره ، مهرباني وکړئ **www.HSE.ie/coronavirus** وګورئ یا په 1850 24 1850 کې HSELive ته زنګ ووهئ.

## څوک کوویډ-19 څخه تر ټولو زیات خطر لري؟

د 65 کلن او لدې څخه زیات عمر کسان چې ځینې ځانګړې روغتیایي حالتونه لري چې که دوی ته کوویډ-19 ولګي نو زیات لوړ خطر سره مخ وي.

د زیات عمر هغه خلک چې د خیال ساتنې په مرکزونو کې اوسیږي هم د کوویډ-19 لګېدو له امله زیات لوړ خطر کې پرېوځي، ځکه چې دا وایرس په ګډه اوسېدونکو خلک منځ کې زیات چټک خپریږي.

د روغتیا د ساتنې کارکوونکي د نورو په پرتله زیات لوړ خطر لري چې کوویډ-19 سره به مخامخ شي.

## د کوویډ-19 واکسین څه شی دی؟

واکسین هغه مواد یعني درمل دي چې یو ځانګړې ناروغۍ څخه خوندیتیا (حفاظت) ته وده ورکوي.

د کوویډ-19 واکسین به تاسو ته له کووډ-19-حفاظت درکړي. که خلکو ته واکسین ورکړل شي، نو دا زموږ په ټولنه

کې له کوویډ-19 جدي ناروغه کېدونکو یا مړېدونکو شمېر
راکمولی شي. وېکسن د ستاسو بدن ته ښیي چې تاسو له ناروغیو څرنګه بچ کړي.

د واکسین له الرې د ستاسو بدن ته ورښیل چې ځان له کوویډ-19 ناروغۍ محفوظ وساتي له دې زیات غوره ده چې بدن د ناروغۍ د تېرولو څخه خپله ژغورنه زده کړي.

## موړ لومړی چا ته واکسین وړاندې کوو؟

موړ (د هیلت سروسز ایګزیکټیو) هغه چا ته لومړی ویکسین وړاندې کوو چې د کوویډ-19 زیات لوړ خطر لري.

موږ لاندې ډول خلکو ته وړاندې کوو:

- په آیرلېنډ کې د واکسینو رارسېدو سره سم به ورکول کیږي.

تاسې پدې ویب پاڼه د واکسین د ډلو نوملړ لیدلی شئ:: **www.gov.ie/covid19vaccine**

**که څه هم دا د ستاسو خپله خوښه ده چې واکسین اخلئ یا نه، HSE په کلکه سپارښتنه درکوي چې کوم وخت موږ له خوا تاسو ته واکسین ست وشي، هم هغه وخت یې ترلاسه کړئ. HSE دا واکسین وړیا وړاندې کوي.**

د واکسین د ترلاسه کولو څخه وړاندې تاسو باید دا پاڼه او د مریض د معلوماتو پاڼه ولولئ. کوالی شئ د مریض د معلومات پاڼه **www.hse.ie/covid19vaccinePIL** کې وموئ.

کوالی شئ له مخې د روغتیا یو مسلکي تن سره خبرې وکړئ. که تاسو د واکسین د ترلاسه کولو پریکړه وکړئ، تاسو باید خپل رضایت ورکړئ چې ثبت کیږي به.

## ما ته واکسین راکوونکی یعني واکسیناټور څوک دی؟

ستاسو واکسیناټور هغه تن دی چې تاسو ته واکسین درکوي.

د روغتیا روزل شوي مسلکي کسان دي چې د HSE سره کار کوي، لکه نرسان، ډاکټران، یا فارماسسټان

## د کوویډ-19 واکسین ترلاسه کول ولې مهم دي؟

د کوویډ-19 واکسین به تاسو د کوویډ-19 له امله پیدا کیدونکو سختو مشکالتو څخه وژغوري. خلکو ته د واکسین وړاندې کولو څخه زموږ هدف د خلکو ژغورنه او د وایرس له پېښېدونکې ناروغۍ او مړګونه راکمول دي.

## ما له مخې د کوویډ-19 ناروغي تېره کړې ده، نو اوس هم ما ته د واکسین اړتیا شته؟

هو. که تاسو ته له مخې کوویډ-19 ناروغي تېره کړې ده، تاسو یې بیا هم کولی شئ ترلاسه کړئ. واکسین به دا خطر کم کړي چې کوویډ-19 بیا درته ولګي. نو بیا که تاسو یو ځل کوویډ-19 ولګي، نو دا به د ستاسو د علایمو جدیت راټیټ کړي.

## زه په دې وخت کې کوویډ-19 ناروغ یم، آیا زه باید واکسین ترلاسه کړم؟

نه. تاسو باید د رغېدو پورې د واکسین خوړل وځنډوئ.

**داسې د الندې مودو لپاره وکړئ:**

- په لومړي ځل د علایمو درک کولو نه لږ تر لږه څلور هفتې وروسته یا
- د کوویډ-19 د ټسټ کولو نه لږ تر لږه څلور هفتې وروسته

# د واکسین ترلاسه کول

## ما ته واکسین له کومه ترلاسه کېدې شي؟

تاسې ته به د واکسینو په مرکز، د خپل عمومي معالج لخوا، یا ټولنیز درملتون کې واکسین درکول کیږي.

که تاسو د اوږد مهاله خیال ساتنې په مرکز کې اوسېږئ، تاسو ته به واکسین هم هغلته درکړي شي.

که تاسو د روغتیا ساتنې په لومړیو جبهو کې کار کوئ، تاسو ته به واکسین د خپل کار ځای یا کار ځای سره نږدې مرکز کې درکړل شي.

موږ به تاسو ته د اشتهار یا مستقیمې بلنې له لارې ووایو چې د ستاسو د کوویډ-19 د اخستلو نوبت کله دی.
مهمه ده چې تاسو له هغې وړاندې د HSE سره د رابطه کولو هڅه وه نه کړئ.

## کوم واکسین د استعمال لپاره چمتو دی؟

کوم واکسین چې موږ وړاندې کوو د Comirnaty په نوم یادیږي، چې د فایزر/بایان ټیک لخوا جوړ شوی دی. د

mRNA دا واکسین، د کوویډ-19 وایرس د استعمال پرته، ستاسو بدن ته ښیي چې څرنګه هغه پروټین منځته راولي چې یو حفاظتي ځواب ته شروع کېدو اشاره ورکوي.

بیا د ستاسو بدن هغه اېنټي باډیز مواد جوړوي چې په راتلونکې کې که ستاسو بدن ته COVID-19 وایرس راننوځي نو دا مواد ورسره جګړه کوي.

## د کووېډ-19 ویکسین څرنګه ورکړل کیږي؟

د کووېډ-19 واکسین د ستاسو د الس په مټ کې د پیچکارۍ له لارې درکړل کیږي. دا به یواځې یو څو منټه وخت واخلي.




## د کووېډ-19 څو ځله پیچکاریو ته اړتیا لرم؟

غوره حفاظت لپاره تاسو باید د کووېډ-19 واکسین دوه ځله ترلاسه کړئ. تاسو ته د واکسین د دوېم خوراک د لومړي څخه 28 ورځې (څلور اونۍ) وروسته ضرورت وي.

## آیا دا واکسین محفوظ دی؟

HSE یواځې هله واکسینونه استعمالوي چې کله هغه د حفاظت او اغېزمنتیا الزمو معیارونو سره په سمون کې وي. که

څه هم د کووېډ-19 لپاره واکسین له عامو وختونو زیات چټکۍ سره جوړ کړل شوی دی، کوم واکسین چې موږ وړاندې کوو هغه د واکسین د حفاظت او اغېزمنتیا ټولو ګامو باندې تېر کړل شوی دی.

د استعمال لپاره تصویب کېدا څخه واندې د کووېډ-19 واکسین په هغه ټولو کلینیکي ازموینو او د حفاظت په معاینو راتېر شوی دی چې کوم د نورو جواز لرونکو درملو لپاره مقرر دي، چې په دې کې د حفاظت نړیوال معیارونه تعقیب شوي دي.

کوم واکسین چې موږ وړاندې کوو د Comirnaty په نوم یادیږي، چې د فایزر/بایان ټیک لخوا جوړ شوی دی. دا واکسین:

- په کلینیکي ازموینو کې په زرګونه خلکو کې معاینه کړل شوی دی
- د حفاظت، کیفیت او اغېزمنتیا کلک معیارونو سره سم دی، او د منظم کوونکو دولتي چارواکو لخوا جواز شوی او منظور شوی دی. د آیرلېنډ لپاره منظم کوونکې اداره د درملو لپاره اروپایي اژانس )EMA( ده - د نورو معلوماتو لپاره **www.ema.europa.eu** وګورئ.

## د واکسین اړخیزې اغیزې کومې دي؟

د نورو درملو په څیر، واکسین کولی شي اړخیز تاثیرات ولري. او دغه اړخیزو تاثیراتو څخه ډېر تت څخه تر معتدل او لنډمهاله دي، او هر چا باندې اغېز نه لري.

په 10 کسانو کې دا ثاثیرات یو څخه زیاتو کسانو کې ظاهرېدلی شي.

- د ستړیا احساس
- د لاسه هغه برخه کوم کې چې واکسین لګېدلی د هغه برخط نرموالی، ډدوالی او/یا سوروالی
- سر درد
- د غړو درد دبندونو درد د زړه بدېدنه
- تبه (د 38 سنتي ګرېډ تودوخه یا له دې لوړه درجه)

په زیاتو نادرو موقعو باندې د واکسین لګېدنې په ځای کې د خارښ جوړېدنه، د لیمف غدودو ډډېدنه،

یا بې خوبي. دا اړخیزې اغېزې په 1000 تنانو کې له یو څخه زیات تنانو کې ظاهرېږي.

د مخ ګوزن په نوم د ناروغي یو نادر اړخیز اغېز دی چې په 10000 تنانو کې له 1 څخه زیاتو تنانو کې ظاهریږي.

واکسین په عکس العمل کې کې جدي اړخیز تاثیرات، لکه د الرجیک عکس العملونه، نهایي زیات نادر دي، او په

100,000 خلکو کې چا 1کس کې ظاهر شي.

تاسو ته واکسین درکوونکی د سختو الرجیکو عکس العملونو درملنه کولو کې روزنه لري.

د کوویډ-19 په هم هغه ټولو کلینیکي ازموینو او حفاظتي معاینو راتېر شوی دی چې د نورو درملو د لایسنس کېدا لپار مقررې دي، خو واکسین نوی دی او د اوږد مهاله اثراتو په اړه معلومات یې محدود دي.

څرنګه چې په ایرلینډ او نورې نړۍ کې خلک دا واکسین ترلاسه کوي، نو د دې اړخیزو اثراتو په اړه نور معلومات به مخې ته راځي.

HSE به په منظم ډول دا معلومات په خپل ویب سایټ باندې تازه کوي، او که اړتیا وي، نو خلکو ته ورکړل شوي معلوماتي پارچې به د هغوی لخوا د خپل لومړي ځل یا دویم ځل د واکسین د ترلاسه کولو په وخت ورتازه کړي.

## د واکسین وروسته تبه

د واکسین د ترالسي نه وروسته تبه راتلل عامه خبره ده. په عمومي توګه، دا د واکسین کارولو نه دوه ورځې ( 48 ساعته) وروسته پیښیږي، او دوه ورځو کې تبه الړه شي.

د دویم ځل لپاره د ویکسین د ترلاسي نه وروسته د تبې د راتلو امکان زیات دی. که زیات ناارامه احساسوئ نو په باکس یا پارچه باندې هدایت شوی پېراسیټامول یا ایبوپروفین وخورئ.

که زیات اندېښمن یاست، طبي مشوره ترلاسه کړئ.

## آیا کېدي شي چې د کوویډ-19 واکسین له امله کوویډ-19 ولګي؟

نه. د کوویډ-19 واکسین نشي کولی چې تاسو کې د کوویډ-19 ناروغي پیدا کړي. ممکنه ده چې تاسو د واکسین خوړلو څخه وړاندې کوویډ-19 لګېدلی وي او د واکسین لپاره د وخت ټاکل کېدا نه وروسته درته د ناروغی علایم ظاهر شول.

که تاسو د کوویډ-19 عام نخښې لرئ، مهمه ده چې ځان له نورو خلکو بېل کړئ (په خپله خونه کې ووسئ) او ځان لپاره د یو وړیا ټسټ انتظام وکړئ چې معلومه شي آیا کوویډ-19 لرئ یا نه لرئ.

که تاسو ته د واکسین خوړلو نه دوه ورځې وروسته تبه ولګي، یا مو تبه دوه ورځو زیاته پاتې شي، تاسو باید ځان له نورو خلکو بېل کړئ او ځان لپاره د کوویډ-19 د ټسټ انتظام وکړئ.

که تاسو کې د لومړی واکسین پېچکاری نه وروسته د کوویډ-19 علایم ظاهر شي، تاسو بیا هم اړ یاست چې دویمه پېچکاري ولګوئ.

که څه هم تاسو ته د لومړی پېچکاری څخه څه حفاظت ترلاسه کیږي، دا دویمه پېچکاري ده چې ته د وایرس په ضد غوره خونديتيا درکوي.

## آیا داسې خلک هم شته چې باید د کوویډ-19 واکسین ترلاسه نه کړي؟

**هو. که دا شرایطو دربانديې سم راځي نو باید واکسین ترلاسه نه کړئ:**

په تېره کې تاسو د واکسین له موادو څخه سخت الرجیک عکس العمل درلودلی دی. د مریض لپاره معلوماتی پارچه کې د واکسین اجزا وګورئ.

- ❌ په تېره کې تاسو د واکسین له موادو څخه سخت الرجیک عکس العمل درلودلی دی (په شمول د پولي تایلین ګالیکول.) د مریض لپاره معلوماتی پارچه کې د واکسین اجزا وګورئ.
- ❌ تېر ځل مو د واکسین ترلاسه کولو وروسته الرجیک عکس العمل ظاهر کړی و.

که چېرې تاسو هر ډول واکسینو یا د پیچکاری درملني یا پولیسربیټ 80 ته په تېر وخت کې فوري د حساسیت عکس العمل لرلی وي، تاسې باید د COVID-19 واکسین کولو څخه مخکې د خپل ډاکټر سره مشوره وکړئ.

اکثره خلک به وړ وي چې واکسین په خوندي توګه ترلاسه کړي. هغه تن چې تاسو ته به واکسین درکوي په خوشالی سره کولې شي تاسو سره د لیدنې په وخت د ستاسو پوښتنې ځواب کړي.

دوی به د واکسین خوړلو وروسته د خیال ساتنې معلوماتي پارچه هم درکړي، او هم د واکسین د ریکارډ کارډ چې ورباندې به د ستاسو نوم او هغه ډلې نوم چې پکې تاسو ته واکسین درکړل کیږي.

## که زه لوړه تبه لرم نو آیا ما له پکار دي چې د کوویډ-19 واکسین وخورم؟

نه. که تاسو تبه لرئ (یعني 38 سینتي ګرېډ یا له دې پاس حرارت) نو باید د واکسین د ښه کېدو پورې وځنډوئ.

## که زه حامله یم یا ماشوم ته شیدې ورکوم نو آیا زه واکسین خوړلې شم؟

هیڅ داسې ثبوت نشته چې د کوویډ-19 واکسین د حمل په موده کې زیان رسوونکی دی.

دا واکسین په حاملو ښځو باندې تر لویه کچه نه دی ازمویل شوی نو اوس وخت په دې حواله ثبوت محدود دی.

که د روغتیا ساتنې کارمند یاست یا د خطر سره مخ کومې ډلې غړي یاست، او تاسو حامله هم یاست، تاسو باید خپل د حمل ډاکټر سره یا عمومي ډاکټر سره د کوویډ-19 واکسین د ترلاسه کولو په اړه خبرې وکړئ. که تاسو ماشوم ته شیدې ورکوئ تاسو د کوویډ-19 واکسین ترلاسه کولې شئ.

## دا واکسین په څومره وخت کې خپل تاثیر ښیي؟

د کوویډ-19 واکسین دواړه ځله ترلاسه کولو نه وروسته به اکثره خلک به د وایرس په ضد خوندیتیا یعني حفاظت ولري.

دا په دې معنا ده چې دوی به له کوویډ-19 محفوظ وي.

د دویم ځل لپاره خوړلو نه 7 ورځې وروسته پورې دا خپل کار غوره ترسره کوي.

امکان شته چې واکسین خوړلو نه پس هم کېدې شی تاسو ته کوویډ-19 ولګي.

## آیا دا واکسین د هر چا په بدن کې ښه کار کوي؟

واکسین په 16 کلنو او له دې زیاتو عمرونو خلکو باندې ازمویل شوی دی.

اوسني شواهد دا دي چې دا په 95% سلنه ترلاسه کوونکو باندې کار کوي.

که د ستاسو د بدن دفاعي سیستم کمزوری دی، نو د واکسین په خوړلو کې هیڅ اضافي خطر نشته خو واکسین ښايي تاسو لپاره هغومره غوره کار ونکړي.

## څرنګه کولې شم د اړخیزو اغېزو په اړه خبر ورکړم؟

د ټولو وکسینونو په ډول تاسو کولې شئ چې شکمن اړخیزو تاثیراتو په اړه د صحي تولیداتو د تنظیموونې د چارو اداري )HPRA( خبر ورکړئ.

HPRA د ایرلینډ په جمهوریه کې د درملو، طبي آالتو او نورو صحي تولیداتو ته تنظیمونې اداره ده. د درملو د

خوندیتیا د څارنې د خپل کار د برخې په توګه HPRA یو داسې سیستم چلوی چې له مخې یې د روغتیا کارمندان یا عام خلک په ایرلینډ کې د درملو او واکسینونو سره تړلیو مشکوکو بدو عکس العملونو (اړخیزو تاثیراتو) په اړه خبر ورکولې شي.

HPRA د کووید-19 د ویکسین سره تړلیو مشکوکو بدو عکس العملونو (اړخیزو تاثیراتو) په اړه د خبرکولو کلکه ورکهڅونه درکوي تر څو د دغه ویکسین د محفوظ او موثر دوامداره څارنې سره مالتړ وکړای شي.

د کووید-19 د ویکسین په ضد د بد مشکوک عکس العمل په اړه خبر ورکولو لپاره دلته ورشئ
**www.hpra.ie/report**.

د ستاسو ډاکټر یا د کورنۍ یو غړی هم کولی د ستاسو لخوا دغه ریپورټ ورکړي. هرڅومره چې ممکن وی معلومات باید ورکړل شي، او که ممکنه وي، نو د ویکسین د ډلي شمېره هم پکې شامله کړای شي.

HPRA نشی کوالی په انفرادي قضیو باندې خپله مشوره ورکړي. که یو څوک د طبي حوالو سره کومې اندېښنې لري نو دوی باید خپل روغتیایي کارمند (خپل ډاکټر یا فارمسسټ) سره د مشورې لپاره رابطه وکړي.

## د واکسین له برکته د وایرس څخه دا حفاظت څومره موده پورې دوام لري؟

موږ ته ال معلومه نه ده چې دا حفاظت به تر څومره موده پورې وي. دغه ځواب موندلو لپاره کلینیکي ازموینې دوام لري.

## کله چې زه واکسین ترلاسه کړم نو آیا معنا یې دا ده چې ما نه به کوویډ-19 مرض بل چا ته نه خپریږي؟

موږ ته ال نه ده معلومه چې آیا واکسین خوړلو نه وروسته نورو ته د کوویډ-19 خپرېدل بندیږي یا نه. نو څکه مهمه ده چې د وایرس خپرېدا درولو لپاره موږ د عامې روغتیا د مشورو تعقیب ته دوام ورکړو. په ځانګړې توګه، تاسو واکسین ترالسي نه وروسته هم:

- د اجتماعی لریوالي الرښوونې تعقیب کړئ (چې تر حده ممکنه وي نورو څخه په دوه میټره فاصله کې ووسئ)
- په خوله باندې مخ پوښ واغوندئ
- باقاعدګۍ سره السونه ومینځئ

**HSE او د روغتیا ټړیوال سازمان ډبلیو ایچ او سپارښتنه ورکوي چې کله د واکسین ست درته وکړل شي نو واکسین قبول او ترلاسه کړئ.**

**د ځان او نورو خلکو ژغورنه کولو لپاره د ستاسو مننه**

## نور معلومات

د نورو معلوماتو لپاره د مریض معلوماتي پارچه ولولئ. دا به په هغه ورځ تاسو لپاره چاپ شي چې په کومه تاسو واکسین ترلاسه کړی، یا کوالی شئ د مریض د معلوماتو لپاره
پارچه دلته وګورئ **www.hse.ie/covid19vaccinePIL** تاسو کولی شئ د روغتیا مسلکي تن سره هم وغږیږئ،
لکه د ستاسو جي پي (ډاکټر)، یا فارماسسټ یا د روغتیا ډلې
سره.

تاسو کولی شئ د HSE ویب پاڼه دلته وګورئ **www.hse.ie/covid19vaccine**، یا HSElive ته په 1850 24 1850 زنګ ووهئ.

د کوویډ-19 واکسین په اړه د نورو معلوماتو لپاره، پشمول په نورو ښو د دغه معلوماتو او د ژباړې مالتړ لپاره، **HSE.ie/covid19vaccinematerials**وګورئ

# ستاسو شخصي معلومات

په خونديز توګه د واکسین د ورکړې او د واکسین د څارنې او تنظیمونې لپاره ټول اړین معلومات ثبت کولو په موخه HSE به ستاسو شخصي معلومات پروسس کړي.

د HSE لخوا پروسس شوي ټول معلومات به د عمومي قوانینو او په ځانګړي توګه د عمومي معلوماتو ساتنې مقرراتو (GDPR) سره سم وي چې په 2018 کې نافذ شوي.

ستاسو د معلوماتو پروسس کول به قانوني او عادالنه وي. دا به د واکسین د ورکولو چارې اداره کولو د ځانګړي هدف لپاره پروسس شي.

د ډاټا د لږ تر لږ استعمال اصول پلي کړل شوی دی. دا په دې معنا ده چې یوازې هغه معلومات چې د ستاسو د پېژندنې، د ستاسو د واکسین د ترلاسه کولو وخت ټاکلو، د واکسین ترلاسی ثبتولو او د هغه د تاثیراتو د ثبت کولو لپاره اړین وي ساتل کیږي.

تاسو د د معلوماتو د موضوع په توګه خپل هغه شخصي معلوماتو په اړه چې پروسس شوي وي د GDPR دا الندې حقوق لرئ.

- خپلو شخصي معلوماتو په اړه د معلوماتو او د السرسي غوښتنه وکړئ (چې دې ته په عمومي توګه د 'معلوماتو د موضوع لخوا السرسی' (data subject access request) ویل کیږي. دې له مخې تاسو ور یاست چې موږ له خوا د ستاسو په اړه ساتل شویو معلوماتو نقل ترلاسه کړئ او معاینه کړئ چې آیا دا په قانوني توګه پراسس کیږي یا نه.
- موږ سره د ستاسو په اړه معلوماتو کې د اصالح خواست وکړئ. د دې په برکت تاسو کوالی شئ چې موږ سره د ستاسو په اړه معلوماتو کې د کوم غلطیانو اصالح وکړئ.
- خواست کوالی شئ چې د ستاسو معلومات باید له منځه یوورل شي. دا تاسو ته وړتیا ورکوي چې په داسې حال کې چې موږ د ستاسو د معلوماتو د ساتلو لپاره هیڅ کوم معقول دلیل نه لرو تاسو کوالی شئ چې دا معلومات ډیلیټ شي یا ترې شخصي ډاټا لرې کړای شي. که تاسو د خپلو معلوماتو د پراسس کېدا په ضد اعتراض کړی دی نو کوالی شئ چې د خپل حق تر مخې د دغه معلوماتو د ډیلیټ کېدا یا ترې د شخصي معلوماتو د لرې کېدا غوښتنه وکړئ.
- د خپلو شخصي معلوماتو د پراسس کېدا په ضد اعتراض وکړئ. نور

معلومات دلته د ترالسي وړ دي **www.HSE.ie/eng/gdpr**

COVID-19 VACCINE
Public Health Advice

د HSE لخوا په 10 فرورۍ
2021 خپور شوی

Rialtas na hÉireann
Government of Ireland